واحد فقیري دوم سپتمبر ۲۰۱۲

# رامني افغانستان! نو، نه، نیخت

په متحده ایالاتو کي له یوه اوږده او جنجالي مقدماتي انتخاباتو څخه را وروسته، بالاخره جمهوري غوښتونکو استازو د اګست پر ۳۰ د فلوریډا په ایالت کي د ۲۰۱۲ جمهوري ریاست د انتخاباتو لپاره خپل کاندید ونوماوه. پدې ترتیب، د نومبر د انتخاباتو لپاره ښاغلی باراک اوباما او ښاغلی میت رامني رسما ښکر په ښکر سول. په امریکا کي، د عامه افکارو د وروستیو احصاییو په حساب او دغه راز د زیاترو مستقلو سیاسي مبصرینو په ګومان دواړه کاندیدان اوږه په اوږه سره روان دي، او انتخابات به په خورا کم اکثریت وګټل سی.

که څه هم د جمهوري غوښتونکي ګوند په کانونشن کي میت رامني په خپلې وینا کي د افغانستان نوم حتی یو ځل هم یاد نه کړ، خو د عامه افکارو وروستی سروې ښیي چي څه د پاسه ۶۰ فیصده امریکایان وایي: د افغانستان جنجال نه په جنګ او نه هم د امریکا په مالي او ځاني پانګوني او قربانیو باندي ارزي. بل پلو ، پدې وروستیو کي پر امریکایي او ناټو عسکرو باندي د افغان پوځیانو او پولیسو مرګانی حملې د افغانستان د مسلې په باب عام امریکایان لا بې اعتماده، مخالف، او بې حوصلې کړي دي؛ او له افغنستان څخه یې د امریکایي قواوو د ژر ایستلو موقف لا غښتلی کړی دی.

برسېره پر دې، د افغانستان په باره کي د میت رامني په نظر کي ځیني ځانګړي بدلونونه هم راغلي دي. هغه تل هڅه کوله چي د افغانستان په مورد کي مبهم او خو اړخیز دریځ ولري. مګر د ټایم مجلې سره یې پخپلې تازه مرکي کي ځیني نوي خبري کړي دي. هغه وایي،« زه له سرج سره موافق یم، او هم لدې سره موافق یم چي زموږ عسکر باید په ۲۰۱۴ کي خپلو کورونو ته راستانه سي. مګر زما اعتراض دا دی چي د ۲۰۱۴ نیټه باید نه وای اعلان سوې. ما به د نظامیانو له غوښتني سره سم د ۳۰۰۰۰ عسکرو پر ځای ۴۰۰۰۰ استولی وای. له افغانستان څخه د سرج عسکر باید د سپټمبر پر ځای په ډسمبر کي را وتلی وای، ځکه په سپټمبر کي د جنګ میدانونه لا ګرم وي. د جنګ په موسم کي د عسکرو را ایستل خطرونو ایجادوي. طالبان به مدام د افغاني جامعې یوه برخه وي، او هغوی به له مینځه ولاړ نه سي.»

میت رامني په خپله مصاحبه کي د حامد کرزي په باب هم منفي نظر څرګندوي، او ښکاره فاصله ترې ساتي. هغه وایي، «د افغانستان جمهوري ریاست انتخاباب باید د بین المللي او امریکایي څارنکو له نظارت لاندي سوي وای. هله به انتخابات مشروع او با اعتباره وای، او هم به د پراخي ټګی برګی مخه نیول سوي وای. مګر له بده مرغه دا و نه سوه، او افغانانو پراخ انتخاباتي تقلب او دوکه په سترګو ولېده. د روان ښورش په مقابل کي مجادله دا ایجابوي چي خلګ پر کاندیدانو باندي اعتماد ولري. مګر دا و نه سوه، او دا یوه اشتباه وه.»

بلخوا، اوباما د اګست پر ۳۱ هغو عسکرو ته چي د افغانستان په لور روان ول، وویل: «موږ به دا جنګ هسي مسوولانه ختم کړو لکه چي د عراق جنګ مو خلاص او ختم کړ. بل کال به افغانان خپل امنیتي چاري پخپله سمبالوي، او په ۲۰۱۴ کي به د انتقال پروسه تکمیله سي.» لدې سره سم، د اوباما انتخاباتي کمپ پر رامني باندي انتقاد وکړ چي پخپل کانونشن کي یې د افغانستان د جنګ او زرهاوو قربانیانو نوم وا نه خیست.

د افغانستان په ارتباط د اوباما استدلال دا دی چي د امریکا لپاره د افغانستان جنګ نور ختم دی. اسامه ووژل سو، او القاعده نور په افغانستان کي مرکز نلري. د ۲۰۱۴ په پاي کي امریکایي عسکر باید خپل هېواد ته راستانه سي. د جنګونو مصارف کم سي، دننه په هېواد کي پانګونه زیاته سي، او اقتصادي انکشاف ته زیاته توجه وسي.

د جمهوري غوښتونکو په کانونشن کي د افغانستان نوم نه یادېدل ځو علته لري. لومړی، د نومبر په انتخاباتو کي به د متحده ایالاتو اقتصاد مهمه او ټاکونکې مسله وي. البته، د امریکا د جمهوري ریاست په انتخاباتو کي اقتصاد اکثرا ټاکونکی رول لوبولی دی. د کلنټن په کمپین کي «اقتصاد احمق دی» شعار تر ټولو اړدو او مغلق بحثونو موثر تمام سو. پدې انتخاباتو کي به جمهوري غوښتونکي هڅه کوي چي د کمپین تمرکز او توجه د اوباما په دوران کي



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

اقتصادي ستونزو او کمزوريو ته راکش کړي.  همداوس، اکثره جمهوري غوښتونکي مبصرين او حزبي مشران په ميډيا کي د بحثونو په لړ کي همدا کار  کوي. د بېکارانو فيصدي ډېره يادوي.  د اقتصادي انکشاف لپاره د «لږ ماليات، کم مقررات» نسخه وړاندي کوي.  هغوی د اوباما اقتصادي پاليسۍ چپي، راډيکال، او حتی «سوشليسټ» معرفي کوي، او  مدام خلګو ته د اروپا روان اقتصادي رکود او بحران ور يادوي.

دوهم، د امريکا پوځ د پچي او جلب په اساس ځوانان خدمت ته نه ورغواړي، بلکي امريکايي ځوانان پخپله خوښه اردو ته داخلېږي. ځوانان اردو ته د ملي وجيبې، نشنليزم،او خدمت کولو په مقصد ورځي.  په امريکايانو کي عسکري خدمت کول ملي وياړ دی. په ځينو کورنيو کي څو پښته پر له پسې د عسکري خدمت سابقه لري.  لنډه دا چي د امريکا ټوله جامعه د پچي او جلب له اثراتو څخه مصونه ده.  همدا وجه ده چي په ټولنه کي د جنګ سره د پام وړ جدي عام مخالفت نسته، بلکي عامه خلګ د جنګ مصارف دننه په هېواد کي ولګول غواړي.

دريېم، دواړه حزبونه د افغانستان د لانجې لپاره قريب يو راز  دريځونه لري.  هر  ګوند د افغانستان له جنګه د ژر خلاصېدو سره موافق دی.  دواړه حزبونه ګومان کوي چي د افغانستان جګړې ختمول د امريکا د ملي منافعو سره اړخ لګوي.  نو بنا، جمهوري غوښتونکي نه غواړي چي د اوباما دريځ غښتلی سي، بلکي هغوی غواړي چي بحث اقتصاد ته کش کړي چيري چي اوباما کمزوری او تکليف لري.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ